# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| جانبازان | Martyrs |
|---|---|



ژباړه: فرهاد ویاړ


۰۹ جنوری ۲۰۱۳

## سختګیره ښوونکی

دا پیښه د دویمي نړیوالي جګړې پر مهال په قفقاز کې تر سره شوه. زه په ۱۹۴۲ کال کې جبهې ته لاړم. ۱۸ کلن وم. قوماندان مو سختګیره او قهرجن سړی و. هغه په کراتو راته ویل چې زه یو بد سرتیری یم. په رښتیا هم هغه وخت، لا یو بد سرتیری وم. خو د قوماندان خبرې راباندې بدې لګیدی او راته ګران نه و. یوه ورځ قوماندان له ما وپوښتلي:

- ته ډیپلوم لرئ؟

- هو.

- کوم مضمون دي خوښیدو؟

- ریاضي.

قوماندان وویل:

- ما د جګړې دمخه د ریاضي درس ورکو.

- زما ریاضي ډیره خوښیږي.

موږ د ریاضیاتو په اړه خبرې اترې پیل کړې. له دې وروسته موږ اکثراً د ریاضیاتو په اړه خبرې کولې او کله به مو په دې اړه بحث هم کاوه.



یوه شپه قوماندان د دښمن د مورچل، چې د سیند هغه غاړې ته و، د نابودولو دستور تر لاسه کړ. موږ په لامبو له سیند څخه تیر شو. پنځه کس وو. زما دوو ملګرو کوښښ وکړ چې مورچل ته نژدې شي، خو ووژل شو. قوماندان وویل:

- نور نشم کولای تاسو وژلو ته ورکړم. درې فشنګونه په دې خولي کې ږدم. دوه فشنګونه تش دي. خو یو یې ډک دی. هر چا چې ډک فیشنګ راواخیست باید د دښمن مورچل نابود کړي. موږ درې فشنګونه په خولي کې واچول.

ملګري مي يو فشنګ له خولي راواخيست، خو فشنګ ډک نه و. اوس د قوماندان وار و. هغه له خولي يو فشنګ راواخيست، ورته ته يي وکتلي او بيا يي اوبو ته واچو. قوماندان ورو وويل:

ـ فشنګ ډک دی. زه بايد مورچل له منځه ويسم. په خولي کي لا يوه فشنګ پاتي و، زما فشنګ. خو قوماندان هغه راواخيست او ژر يي د يوې ډبرې لاندې کيښود. هغه وخت ما دې موضوع ته دومره پام ونکړ.

قوماندان درې نارنجکه راواخيستل او د مورچل لورې ته روان شو. فاشيستانو په ډزو پيل وکړی. خو قوماندان د مورچل په نابودولو کي بريالی شو. وروسته له دې، زموږ سرتيري چي د سيند په بلې څنډه کي ول بی ځنډه ، په پرمختګ پيل وکړ. موږ له نورو ملګرو سره د مورچل خوا ته منډې کړی. د نابود شوي مورچل تر څنګ، قوماندان وليدلی و. هغه وژل شوی و.

کلونه تير شول. زه د رياضي ښوونکی شوم او د تدريس لپاره هماغه ځای ته لاړم چي يو وخت په کي جنګيدلی وم. يوه ورځ د زده کوونکو سره د ګروپي چکر لپاره غره ته لاړو. غرمي، د سيند په څنډه کي ځنډ شوو. زده کوونکو د اور لګولو لپاره د لرګيو راټولول پيل کړل. هغوی ناڅاپه د بوټو په منځ کي يو زوړ او ويجاړ ګاړی وليد. ښکاره ده چي دا ګاړی د جګړي له وخته هلته پاتي شوی و. هلکانو د موټر د ټيټولو وروسته، د څرمني يوه کڅوړه پيدا کړه. پر کڅوړې ۱۸۲۲ ګڼه تر سترګو کيده، په کڅوړې کي ليکونه وو. کله چي هلکانو دا کڅوړه ماته راوړه، ډير مي ورته پام واوښت: ۱۸۲۲ زموږ د قرارګاه شميره وه! زده کوونکو ته مي وويل:

ـ هلکانو، دا د جبهي ليکونه دي. زه دلته جنګيدلی يم. داسي ښکاري چي دا ليکونه ۱۵ کاله کيږي چي دلته پراته دي! د ليکونو په کتلو بوخت شوو، ناڅاپي سترګي مي په هغه ليک وليدې چي ورباندې زما د مور پته ليکل شوی وه! ليک مي ولوست. زما قوماندان ليکلي وو:

«ګرانه ښاغليه ميخايلوونا! دا ليک ستا د زوي قوماندان تا ته درليږي. زه ښوونکی يم او د هر ښوونکي په شان يو ګران زده کوونکی لرم. زما ګران زده کوونکی ستا زوي دی. هغه فوق العاده په رياضي پوهيږي او فکر کوم چي هغه به پوهني ته ډير خدمت وکړي.»

ليک مي څو کرتي ولوست. ټوله شپه خوب نه راتلو. سهار بيا هماغه ځای ته لاړم چي قوماندان په کي وژل شوی و. ټول هغه څه چي په هغه غرمه تير شوي وو، راپه ياد مي کړل.

ناڅاپه په دې فکر شوم: «ولي قوماندان زما فشنګ د تيږي لاندې کيښود؟» هغه تيږه مي پيدا کړه او فشنګ مي راواخيست... فشنګ ډک و! زما فشنګ ډک و! هغه وخت په ټولو شيانو پوه شوم....